بسم الله الرحمن الرحيم

ستره محکمه

# جریده میــــــزان

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمایي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې اېښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زیاتره اسلاف لـه دې نه دا استنباط کوي ،کـه پـه کائناتو کې د حـق او عـدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.
تفسیر کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

پنج شنبه ۲۰ لیندۍ ۱۴۰۴ هـ ش | ۲۰ جمادی الآخرة ۱۴۴۷ هـ ق | ۱۱ دسمبر ۲۰۲۵ م | مسلسله شمېره (۱۱۹)


## په خوست ولایت کې پر یو تن قاتل د قصاص الهي حکم تطبیق شو

الحمد لله وکفی والصلوة والسلام علی عباده الذین اصطفی، اما بعد:
الله تعالی د البقرې سورت په (۱۷۹) آیت کې فرمایي: ژباړه: ستاسو لپاره په قصاص کې ژوند دی، اې د عقل خاوندانو د دې لپاره چې تاسو تقوا حاصله کړئ.
همدارنګه الله تعالی د الاسراء سورت په (۳۳) آیت کې فرمایي ژباړه: او څوك چې مظلوم وژل شوی وي، د هغه وارث ته موږ د غچ غوښتنې (قصاص) حق ورکړی دی، نو پکار ده چې هغه په وژلو کې له حده تېری ونه کړي، له هغه سره به مرسته وشي.
د خوست ولایت مرکز ورزشي لوبغالي کې په یو تن قاتل باندې د الله (جل‌جلاله) حکم (قصاص) تطبیق شو.
دغه قاتل چې یو کس یې د کلاشینکوف په واسطه په قتل رسولی و، شهرت یې په لاندې ډول دی:
د قاتل نوم منګل ، د طلاخان زوی، د رحمت خان لمسی، د پکتیا ولایت د سیدکرم ولسوالۍ د "سجنک" سیمې اصلي او د خوست ولایت د علیشیرو او تریزیو ولسوالۍ د کوزې ابوخانې سیمې فعلي اوسېدونکی دی، د مقتول عبدالرحمن د ظابط زوی، د علي خان لمسي د خوست ولایت د علیشیرو او تریزیو ولسوالۍ د کوزې ابوخانې سیمې اصلي او فعلي اوسېدونکي د عمدي قتل په پېښه کې نیول شوی و.
یاده موضوع د اسلامي امارت د سترې محکمې اړوند درې ګونو محاکمو (ابتدائیې، مرافعې او تمیز) لخوا په خورا دقیق او مکرر ډول وڅېړل شوه؛ چې په پایله کې پرې د قصاص حکم صادر او تائید شو، وروسته دغه حکم د اسلامي امارت د زعیم عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ الحدیث مولوي هبة الله اخندزاده (حفظه‌الله) حضور ته د تائید لپاره وړاندې شو.
د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله) لخوا هم د دغې موضوع په اړه د وروستي احتیاط په موخه فوق العاده څېړنه وشوه، د مقتول کورنۍ ته د بخښنې او سولې لپاره وړاندیز شوی و، د هغوی له نه منلو او انکار وروسته په قاتل باندې د قصاص شرعي حکم د تطبیق امر ورکړل شو او د دغه حکم د تطبیق لپاره د ملک سترې محکمې ته هدایت وشو، چې دغه د قصاص حکم سه شنبه (د ۱۴۴۷هجري قمري کال د جمادی الآخرة میاشتې په ۱۱مه) نېټه د خوست ولایت د مرکز په ورزشي لوبغالي کې د عام ولس په یوه مجموعه کې تطبیق کړي.
د قصاص د ترسره کېدو په موخه د ملک د قاضي‌القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب په هدایت د سترې محکمې د جزا دیوان عمومي رئیس محترم مفتي عتیق الله (درویش) صاحب د یوه پلاوي په ملتیا خوست ولایت ته لېږل شوی و.
په دې غونډه کې د خوست ولایت د مرافعه محکمې رئیس محترم مولوي عین الله (خلیل)، د خوست والي محترم مولوي عبدالله (مختار)، د نورو امارتي ادارو ګڼ شمېر مسؤولینو او په زیات شمېر عامو خلکو ګډون کړی و.
د غونډې په پای کې په ملک کې د سرتاسري امنیت د لا ټینګښت، د خلکو شرعي حقونو ته د لا رسېدو او د اسلامي شریعت د لا ښه تطبیق لپاره دعاء وشوه؛ غونډه د قاتل په وژنه او په دې اړوند د الله تعالی د ستر حکم قصاص په تطبیق پای ته ورسېده.
د یادونې وړ ده چې د قتل په دې قضیه کې درې ګونو محاکمو او د اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام پر دوو نورو مجرمینو هم د قصاص الهي حکم د تطبیق امر کړی؛ خو دا چې د مقتولینو ځینې وارثین له ملک څخه بهر استوګن او دلته موجود نه دي؛ نو د شرعي احکامو له مخې پر دغه مجرمینو د قصاص الهي حکم تطبیق د مقتولینو د وارثینو تر حاضرېدو معطل شو.

## د سترې محکمې قضائي معاونیت د ۱۴۴۷ هـ ق کال د لومړۍ ربعې د فعالیتونو لنډ راپور

د سترې محکمې قضائي معاونیت د ۱۴۴۷ هـ ق کال په لومړۍ ربعه کې لاندې مهم فعالیتونه ترسره کړي دي:
۱ـ د سترې محکمې قضائي معاونیت ته د اسلامي امارت له بېلا بېلو ادارو څخه د قضائي هدایت غوښتنې په موخه (۷۸۵) مکتوبونه راغلي؛ چې له ارزونې وروسته احکام شوي او د لاربښوونو مطابق اړوند ادارو ته بېرته لېږل شوي دي.
۲ـ د سترې محکمې قضائي معاونیت د بېلا بېلو قضائي او اداري موضوعاتو اړوند (۶۳۸) مکتوبونه د قضائي معاونیت د هدایت مطابق صادر او اړوندو مراجعو ته لېږلي دي.
۳ـ د سترې محکمې قضائي معاونیت ته (۲۹۶۵) عریضې راغلي، چې له ارزونې او هدایت وروسته لازم اجراآت پرې شوي او لـه دې جملې (۷۸۶) عریضې مسترد‌ې شوې.
٤ـ د سترې محکمې قضائي معاونیت تر تائید او تعدیل وروسته (۲۹۶) د تعزیر بالضرب دوسیې د (۳۸) ۴ /۶ /۱۴۴۶ هـ ق نېټې متحدالمآل مطابق اړوند مراجعو ته لېږل شوې دي.

## د سترې محکمې د عالي مقام دفتر عمومي ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د لومړۍ ربعې د فعالیتونو لنډ راپور

د سترې محکمې د عالي مقام دفتر عمومي ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال په لومړۍ ربعې کې لاندې مهم فعالیتونه ترسره کړي دي:
۱ـ د سترې محکمې د عالي مقام دفتر عمومي ریاست ته د ۱۴۴۷ هـ ق کال په لومړۍ ربعه کې د مرکز او ولایتونو له بېلابېلو ادارو، محاکمو او وزارتونو څخه (۳۴۴۰) مکتوبونه او وړاندیزونه راغلي؛ چې له هدایت او اجراآتو وروسته اړوند ادارو ته بېرته لېږل شوي دي.
۲ـ د سترې محکمې د عالي مقام دفتر عمومي ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال په لومړۍ ربعه کې (۱۴۲۰) جزائي دوسیې د تعزیري سزاګانو د تطبیق په موخه اړوندو ادارو ته راجع کړې دي.
۳ـ د سترې محکمې د عالي مقام دفتر عمومي ریاست لخوا د ۱۴۴۷ هـ ق کال په لومړۍ ربعه کې د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله تعالی) د فرمان مطابق په ټاکلي وخت د میاشتې د لیدلو هیئت ناستې جوړې او تنظیم کړې دي.

## د سترې محکمې د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست اړوند قضائي تدقیق ریاست د جمادی الأولی میاشتې د فعالیتونو لنډ راپور

د سترې محکمې د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست اړوند قضائي تدقیق ریاست د روان ۱۴۴۷ هـ ق کال د جمادی الأولی میاشتې په جریان کې د (۱۰۹) بېلابېلو موضوعاتو په اړه تدقیقي نظریات ورکړي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:
د قضائي تدقیق ریاست د (۱۰) جزائي استهدااتو پر وړاندې تدقیقي نظریات، (۵) د تجارتي استهدااتو پر وړاندې تدقیقي نظریات، (۱۶) د مدني استهدااتو پر وړاندې تدقیقي نظریات، (۱۰) د وثایقو استهدااتو پر وړاندې تدقیقي نظریات، (۱۶) د متفرقو استهدااتو پر وړاندې تدقیقي نظریات، (۳۰) د قضائي تفتیش د راپورونو په تړاو تدقیقي نظریات، (۱) د عارضینو د عرایضو پر وړاندې تدقیقي نظر، (۲۰) مکتوبي موضوعات او (۱) مستردي موضوع شامله ده.

**د راشده خلافت په دوره کې قضاء:**

**هغه مهم کارونه چې د ابوبکر ﷺ د خلافت په دوره کې ترسره شوي**

**اته‌لسمه برخه**

نو بیا مسلمانان او رومیان مخامخ شول او د دوی ترمنځ جګړه پیل شوه، د جګړو لړۍ د څه مودې لپاره دوام وکړ او وروستۍ پایله یې د مسلمانانو لپاره بریا وه، زیات شمېر رومیان ووژل شول، چې حساب یې ګران و او همدارنګه ډېر زیات له مسلمانانو سره اسیران شول. په دغه وخت کې خالد بن ولید ﷺ ته خبر راورسېد، چې ابوبکر ﷺ وفات شوی او د خلافت بیعت له عمر ﷺ سره شوی او ترڅنګ یې د خالد د معزوله کېدو او د لښکر د مشر په حیث د ابو عبیده د ټاکل کېدو خبره هم لیکل شوې وه، نو خالد زیات خوشحاله شو، د دې لپاره چې د مسلمانانو صفونو کې ګډوډي رامنځته نشي نو خبره یې پټه کړه، کله چې خبر ابو عبیده ﷺ ته ورسېد، هغه هم خوشحاله شو او له همدې امله یې خبره پټه وساتله.
( فقه السیرة النبویة، ص: ۳۵۲)

اخذلیک: تتمة النظام، ۶۱ صفحه، تألیف: قاضي القضات شیخ عبدالحکیم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحیم راشد

## د سترې محکمې دارالانشاء عمومي رياست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د لومړۍ ربعې د فعاليتونو لنډ راپور

د سترې محکمې دارالانشاء عمومي رياست د ۱۴۴۷هـ ق کال په لومړۍ ربعه کې لاندې مهم فعاليتونه ترسره کړي دي:
دارالانشاء عمومي رياست په لومړۍ ربعه کې د محاکمو د تبديلۍ اړوند (۶۳۶) موضوعاتو، د استهداء اړوند (۱۲۲) موضوعاتو، (۲۰۰) متفرقه موضوعاتو، د تنازع صلاحيت اړوند (۳۷) موضوعاتو، د قضاتو د تخلفاتو اړوند (۱۴۰) موضوعاتو، د تجديد نظر اړوند (۱۷۲) موضوعاتو او (۹) متحدالمآلونو ته چې په مجموع کې (۱۳۱۶) موضوعات کېږي؛ له اصولو سره سم رسېدنه کړې ده.

## د قضائي زده کړو عمومي رياست لخوا د اختصاصي محاکمو قضائي غړو ته د ظرفيت لوړونې سيمينار پای ته ورسېد

د سترې محکمې د قضائي زده کړو عمومي رياست لخوا د ملک تولو اختصاصي محاکمو قضائي غړو ته جوړ شوی سيمينار؛ په ۱۳/ ۶/ ۱۴۴۷هـ ق نېټه په برياليتوب سره پای ته ورسېد.

په دې موخه جوړه شوې غونډه د ياد رياست د امام مولوي مزمل لخوا د قرآنکريم د څو مبارکو آياتونو په تلاوت پيل شوه؛ ورپسې د سترې محکمې اداري مرستيال محترم شيخ سخاءالله (سعيد) د قضاء اهميت، عدالت او انصاف کولو په اړه تفصيلي وينا وکړه.

محترم شيخ صاحب د قاضي مهمې دندې او مسؤوليتونه، د قضاء ځېرنه، د ځېرنې اهميت او مهم شرايط، د قضائي نظام اهميت او د اسلامي نظام د بقاء اسباب بيان کړل چې مهم په کې د قضاء نظام دی.

نوموړي وويل، قاضي بايد په هر څه کې عدالت وکړي، ترڅو الله تعالی او مخلوق دواړه راضي شي، د قضاء پر مهال بايد د الله تعالی وېره په نظر کې ونيسي، د الله تعالی له ملامتۍ پرته نور له هېڅ ونه ډار شي او د تهمت له ځايونو بايد ځان وساتي.

د سترې محکمې اداري مرستيال په خپلو خبرو کې د سيمينار له ټولو ګډونوالو او د قضائي زده کړو عمومي رياست له استادانو مننه وکړه.

غونډه د سيمينار ګډونوالو ته تر تصديقپاڼو وېشلو او معنوي ډالۍ له ورکړې وروسته د محترم شيخ صاحب جان صاحب لخوا د دعاء په ويلو پای ته ورسېده.

د يادونې وړ ده چې ياد روزنيز سيمينار په ۱/ ۶/ ۱۴۴۷هـ ق نېټه پيل شوی و او د اختصاصي محاکمو (۸۶) علماوو په کې ګډون درلود.

## دکندهار ولايت د دامان ولسوالۍ ابتدائيه محکمې مسؤولينو په هڅو د دوو کورنيو ترمنځ دښمني په دوستۍ بدله شوه

د کندهار ولايت د دامان ولسوالۍ ابتدائيه محکمې مسؤولينو په ډېرو هڅو د دوو کورنيو ترمنځ يوولس کاله مخکې رامنځته شوې د قتل موضوع؛ په ۱۰/ ۶/ ۱۴۴۷هـ ق نېټه حل او شته دښمني يې په دوستۍ بدله شوه.

ياده موضوع ابتدائيه محکمې ته تر راجع کېدو وروسته په غور او دقت وڅېړل شوه، ورپسې د مسؤولينو په هڅو دواړه لوري سولې ته وهڅول شول، دوی هم ومنله او موضوع يې رسماً حل او شته دښمني يې په دوستۍ بدله شوه.

## دکابل ولايت قره باغ ولسوالۍ ابتدائيه محکمې مسؤولينو په هڅو د دوو کورنيو ترمنځ د قتل موضوع حل شوه

د کابل ولايت قره باغ ولسوالۍ ابتدائيه محکمې مسؤولينو په ډېرو هڅو؛ د قومي مشرانو او علماوو په منځګړيتوب، په ۴ / ۶ / ۱۴۴۷هـ ق نېټه د دوو کورنيو ترمنځ د قتل موضوع حل او فصل شوه.

ياده موضوع چې شاوخوا دوه کاله مخکې د قره باغ ولسوالۍ اړوند په لنګر کلي کې د خپل منځي جګړې له امله رامنځته شوې وه؛ ابتدائيه محکمې ته تر راجع کېدو وروسته په غور او دقت وڅېړل شوه او د محکمې له لوري د حکم څخه مخکې دواړه لوري سولې ته وهڅول شول او دوی هم قبوله کړه.

وروسته ياده موضوع د يوې غونډې په جريان کې چې د دواړو لوريو مشرانو او علماوو هم په کې ګډون درلود، د مقتول وارثينو قاتل ته بخښنه وکړه، موضوع يې رسماً پای ته ورسېده او دښمني يې په دوستۍ بدله شوه.

## رئيس محکمهٔ مرافعهٔ ولايت پروان از محاکم ابتدائيهٔ ولسوالی‌های شيخ‌علی، سرخ پارسا، سياه‌گرد غوربند و شينواری آن ولايت بازديد نمود

محترم الحاج مولوی ميرآقا (ذبيح الله خالد) رئيس محکمهٔ مرافعهٔ ولايت پروان، با معيتی مفتی عبدالولی (حليم) رئيس ديوان جزا مرافعه، مولوی عبدالحليم (منيب) رئيس ديوان مدنی مرافعه، مولوی عبدالمقيت (مبارز) رئيس ديوان امنيت عامهٔ مرافعه، به تاريخ ٤ /٦ /١٤٤٧هـ ق، از محاکم ابتدائيه ولسوالی‌های شيخ‌علی، سرخ پارسا، سياه‌گرد غوربند و شينواری آن ولايت بازديد به عمل آورد.

در اين بازديد ابتداء جلسات مختصر با قضات، کارمندان اداری محاکم متذکره و مديريت‌های حقوق تدوير گرديد، سپس کتب حاضری و مطبوع و غير مطبوع محاکم متذکره را بطور همه جانبه ملاحظه و بررسی نمود.

در ادامه رئيس محکمهٔ مرافعه روی موارد ذيل تأکيد نمود:

۱ـ سلوک نيک با مراجعين و همکاران در اولويت قرار داده شود؛ در اجراآت خويش، رعايت فرامين عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه‌الله) جداً در نظر گرفته و طبق هدايات، اصولنامه، لوايح و متحدالمآل‌های ارسالی مقام عالی ستره محکمه، اجراآت نمائيد.

۲ـ در رابطه به ترتيب و تنظيم دوسيه‌جات توجه جدی صورت گيرد؛ تا خود و مراجع مربوطهٔ آن به مشکل اداری و قضائی مواجه نگردند.

۳ـ هرچند در همه جلسات و بازديدهای محاکم برای پرسونل قضائی و اداری يادآوری گرديده‌است بازهم تأکيد می‌گردد، در قسمت ارائه راپورهای دو هفته‌يی، ربع‌وار ، سالانه و راپورهای حاضری ۲۵ روزه را با درنظرداشت جدول ها ورهنمائی‌های مقام عالی ستره محکمه، بدون تأخير اجراآت بعمل آيد.

همچنان رئيس محکمهٔ مرافعه يک تعداد مراجعين که به محاکم ذکرشده مراجعه نموده بودند، عرايض دست داشته آنها را ملاحظه و بطور همه جانبه تحت بررسی قرار داد، از يک تعداد مراجعين محاکم متذکره بطور مخفيانه، از برخورد و اجراآت قضات و کارمندان محاکم مديريت‌های حقوق، معلومات خواست که خوشبختانه مراجعين از خدمات محاکم رضايت کامل داشتند.

در اخير مشکلات و پيشنهادات شان توسط هيئت مؤظف يادداشت گرديد؛ تا جهت بهبود آنها بعداً اجراآت صورت گيرد.

## دکاپيسا، ميدان وردګ او دايکنډي ولايتونو د حقوقو آمريتونو په يوه مياشت کې (۹۶۲) عرض‌پاڼو او دوسيو ته رسېدنه کړې ده

د سترې محکمې د حقوقو عمومي رياست اړوند د کاپيسا، ميدان وردګ او دايکنډي ولايتونو د حقوقو آمريتونو په يوه مياشت کې له ( ۱۴۴۷/۵/۱ څخه تر ۱۴۴۷/۵/۳۰ هـ ق) نېټې پورې (۹۶۲) عرض‌پاڼو او دوسيو ته رسېدنه کړې ده؛ چې جزئيات يې په لاندې ډول دي.

**د عرض‌پاڼو په برخه کې:**

د کاپيسا، ميدان وردګ او دايکنډي ولايتونو د حقوقو آمريتونو په يوه مياشت کې د مدني، فاميلي او سوداګريزو دعواوو په برخه کې (۸۲۰) عرض‌پاڼو ته رسېدنه کړې ده.

له دې جملې څخه (۳۰۷) عرض‌پاڼې اصلاح او ابراء شوې، (۱۸۴) عرض‌پاڼې محاکمو ته لېږل شوې، (۱۷) عرض‌پاڼې نورو ادارو ته راجع شوې، (۳۱۲) عرض‌پاڼې حفظ شوې او پاتې عرض پاڼې تر کار لاندې دي.

**د دوسيو په برخه کې:**

د کاپيسا، ميدان وردګ او دايکنډي ولايتونو د حقوقو آمريتونو په يوه مياشت کې د مدني، فاميلي او سوداګريزو دعواوو په برخه کې (۱۴۲) دوسيو ته رسېدنه کړې ده.

له دې جملې څخه (۳۴) دوسيې تطبيق شوې، (۵) دوسيې محاکمو ته لېږل شوې، (۱۵) دوسيې نورو ادارو ته راجع شوې، (۸۸) دوسيې حفظ شوې او پاتې دوسيې تر کار لاندې دي.

د کاپيسا، ميدان وردګ او دايکنډي ولايتونو د حقوقو آمريتونو په يوه مياشت کې (۹۶۲) عرض‌پاڼو او دوسيو ته رسېدنه کړې ده

د سترې محکمې د حقوقو عمومي رياست اړوند د کاپيسا، ميدان وردګ او دايکنډي ولايتونو د حقوقو آمريتونو په يوه مياشت کې له ( ۱/۵/۱۴۴۷ څخه تر ۳۰/۵/۱۴۴۷ هـ ق) نېټې پورې (۹۶۲) عرض‌پاڼو او دوسيو ته رسېدنه کړې ده؛ چې جزئيات يې په لاندې ډول دي.

**د عرض‌پاڼو په برخه کې:**

د کاپيسا، ميدان وردګ او دايکنډي ولايتونو د حقوقو آمريتونو په يوه مياشت کې د مدني، فاميلي او سوداګريزو دعواوو په برخه کې (۸۲۰) عرض‌پاڼو ته رسېدنه کړې ده.

له دې جملې څخه (۳۰۷) عرض‌پاڼې اصلاح او ابراء شوې، (۱۸۴) عرض‌پاڼې محاکمو ته لېږل شوې، (۱۷) عرض‌پاڼې نورو ادارو ته راجع شوې، (۳۱۲) عرض‌پاڼې حفظ شوې او پاتې عرض پاڼې تر کار لاندې دي.

**د دوسيو په برخه کې:**

د کاپيسا، ميدان وردګ او دايکنډي ولايتونو د حقوقو آمريتونو په يوه مياشت کې د مدني، فاميلي او سوداګريزو دعواوو په برخه کې (۱۴۲) دوسيو ته رسېدنه کړې ده.

له دې جملې څخه (۳۴) دوسيې تطبيق شوې، (۵) دوسيې محاکمو ته لېږل شوې، (۱۵) دوسيې نورو ادارو ته راجع شوې، (۸۸) دوسيې حفظ شوې او پاتې دوسيې تر کار لاندې دي.

## د بدخشان، پروان او پنجشېر ولايتونو د حقوقو آمريتونو په يوه مياشت کې (۸۹۶) عرض‌پاڼو او دوسيو ته رسېدنه کړې ده

د سترې محکمې د حقوقو عمومي رياست اړوند د بدخشان، پروان او پنجشېر ولايتونو د حقوقو آمريتونو په يوه مياشت کې له (۱/۵/۱۴۴۷ هـ ق څخه تر ۲۹/۵/۱۴۴۷ هـ ق) نېټې پورې (۸۹۶) عرض‌پاڼو او دوسيو ته رسېدنه کړې ده؛

چې جزئيات يې په لاندې ډول دي.

**د عرض‌پاڼو په برخه کې:**

د بدخشان، پروان او پنجشېر ولايتونو د حقوقو آمريتونو په يوه مياشت کې د مدني، فاميلي او سوداګريزو دعواوو په برخه کې (۶۷۱) عرض‌پاڼو ته رسېدنه کړې ده.

له دې جملې څخه (۳۰۹) عرض‌پاڼې اصلاح او ابراء شوې، ( ۲۰۵) عرض‌پاڼې محاکمو ته لېږل شوې، (۱۰) عرض‌پاڼې نورو ادارو ته راجع شوې، (۱۴۷) عرض‌پاڼې حفظ شوې او پاتې عرض پاڼې تر کار لاندې دي.

**د دوسيو په برخه کې:**

د بدخشان، پروان او پنجشېر ولايتونو د حقوقو آمريتونو په يوه مياشت کې د مدني، فاميلي او سوداګريزو دعواوو په برخه کې (۲۲۵) دوسيو ته رسېدنه کړې ده.

له دې جملې څخه (۴۷) دوسيې تطبيق شوې، (۴۱) دوسيې محاکمو ته لېږل شوې، (۱۸) دوسيې نورو ادارو ته راجع شوې، (۱۱۹) دوسيې حفظ شوې او پاتې دوسيې تر کار لاندې دي.

## محاکم ولایت هرات طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۱۳۵۴) دوسیه، به تعداد (۱۴۲۸) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت هرات، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۵/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۳۰/ ۵/ ۱۴۴۷ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی، تجارتی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۸۹۴) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۳۵۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۳۲) دوسیه فیصله شده، (۵۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۶۸۴) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۲۲۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۷۰) دوسیه فیصله شده، (۳۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش تجارتی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۲۴۶) دوسیهٔ تجارتی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۸۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۷۹) دوسیه فیصله شده، (۲۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت هرات به تعداد (۱۴۲۸) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## د بلخ ولایت محاکمو په دوو اونیوکې (۵۰۷) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۳۳۸) وثیقې هم اجرا کړې دي

د بلخ ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه، د بلخ زون اختصاصي او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په دوو اونیو کې (له ۲۴/ ۵/ ۱۴۴۷ څخه تر ۶/ ۶/ ۱۴۴۷هـ ق) نېټې پورې (۵۰۷) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۳۳۸) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۳۶۴) حقوقي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۲۳۹) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۸۲) دوسیې فیصله شوې، (۵۰) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۱۶۳) جزائي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۷۱) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۵۵) دوسیې فیصله شوې، (۱۰) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۳۳۸) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم ولایت بادغیس طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۸۲۲) دوسیه، به تعداد (۲۲۸) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت بادغیس، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۵/ ۱۴۴۷هـ ق الی ۳۰/ ۵/ ۱۴۴۷هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۵۱۵) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۴۵۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۶۳) دوسیه فیصله شده، (۲۷) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۲۷۸) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۹۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۵۸) دوسیه فیصله شده، (۲۰) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بادغیس به تعداد (۲۲۸) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت دایکندی طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۸۷) دوسیه، به تعداد (۷۹) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت دایکندی، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۶/ ۵/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۳۰/ ۵/ ۱۴۴۷ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۵۶) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۴۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۵) دوسیه فیصله شده، (۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۵۳) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۸) دوسیه فیصله شده، (۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت دایکندی به تعداد (۷۹) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت بامیان طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۲۰۱) دوسیه، به تعداد (۱۵۵) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت بامیان، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۵/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۳۰/ ۵/ ۱۴۴۷ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۱۸۷) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۹۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۴) دوسیه فیصله شده، (۱۹) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۹۶) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۰) دوسیه فیصله شده، (۷) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بامیان به تعداد (۱۵۵) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## د کابل ښار د سندونو او وثیقو د ثبت شپږو آمریتونو په دوو اونیوکې (۱۲۸۳) بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي

د کابل ښار د سندونو او وثیقو د ثبت شپږو آمریتونو په دوو اونیو کې له (۱۶/ ۵/ ۱۴۴۷ هـ ق څخه تر ۲۹/ ۵/ ۱۴۴۷ هـ ق) نېټې پورې (۱۲۸۳) بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**۱- د سندونو او وثیقو د ثبت لومړی حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت لومړۍ حوزې په دوو اونیو کې (۱۰۰) نکاح خطونه، (۲۲) قبالې، (۷) زوجیت خطونه، او (۷۲) نورې بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۲- د سندونو او وثیقو د ثبت دویمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت دویمې حوزې په دوو اونیو کې (۵۷) نکاح خطونه، (۱۶) قبالې، (۱۱) زوجیت خطونه او (۱۱۱) نورې بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۳- د سندونو او وثیقو د ثبت دریمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت دریمې حوزې په دوو اونیو کې (۱۳۶) نکاح خطونه، (۷) قبالې، (۲۱) زوجیت خطونه او (۸۹) نورې بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۴- د سندونو او وثیقو د ثبت څلورمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت څلورمې حوزې په دوو اونیو کې (۸۳) نکاح خطونه، (۵۱) قبالې، (۵) زوجیت خطونه او (۷۰) نورې بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۵- د سندونو او وثیقو د ثبت پنځمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت پنځمې حوزې په دوو اونیو کې (۱۶۱) نکاح خطونه، (۵) قبالې، (۲۱) زوجیت خطونه او (۱۲۰) نورې بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۶- د سندونو او وثیقو د ثبت شپږمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت شپږمې حوزې په دوو اونیو کې (۶۶) نکاح خطونه، (۸) زوجیت خطونه او (۴۴) نورې بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

## د بلخ ولایت د حقوقو آمریت په یوه میاشت کې (۱۱۸۱) عرض‌پاڼو او دوسیو ته رسېدنه کړې ده

د ستري محکمې د حقوقو عمومي ریاست اړوند د بلخ ولایت د حقوق آمریت په یوه میاشت کې له (۱/۵/۱۴۴۷ هـ ق څخه تر ۳۰/۵/۱۴۴۷ هـ ق) نېټې پورې (۱۱۸۱) عرض‌پاڼو او دوسیو ته رسېدنه کړې ده؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**د عرض‌پاڼو په برخه کې:**

د بلخ ولایت د حقوقو آمریت په یوه میاشت کې د مدني، فامیلي او سوداګریزو دعواوو په برخه کې (۷۱۸) عرض‌پاڼو ته رسېدنه کړې ده.

له دې جملې څخه (۱۱) عرض‌پاڼې اصلاح او ابراء شوې، (۳۱۹) عرض‌پاڼې محاکمو ته لېږل شوې، (۳۲) عرض‌پاڼې نورو ادارو ته راجع شوې، (۳۵۶) عرض‌پاڼې حفظ شوې او پاتې عرض پاڼې تر کار لاندې دي.

**د دوسیو په برخه کې:**

د بلخ ولایت د حقوقو آمریت په یوه میاشت کې د مدني، فامیلي او سوداګریزو دعواوو په برخه کې (۴۶۳) دوسیو ته رسېدنه کړې ده.

له دې جملې څخه (۵۶) دوسیې تطبیق شوې، (۹۳) دوسیې محاکمو ته لېږل شوې، (۱۵) دوسیې نورو ادارو ته راجع شوې، (۲۹۹) دوسیې حفظ شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

مسؤول مدير: مولوي عبدالرحيم (راشد)
اديتور : جوادالله (جاهد)
ډيزاين: حميدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه خپرونه
په مياشت کې درې ځله چاپيږي


## دکابل ولایت د نشه‌يي توکو او مسکراتو څخه د مخنيوي ابتدائيه محکمې لخوا (۱۵) مجرمينو ته تعزيري سزا ورکړل شوه



د کابل ولايت د نشه‌يي توکو او مسکراتو څخه د مخنيوي ابتدائيه محکمې د پرېکړې له مخې (۱۵) کسانو ته د نشه‌يي تابليتو (ډيکپ، تابليت کا)، شيشې او چرسو د خرڅلاو او قاچاق په جرمونو، د يکشنبې په ورځ ۹/ ۶/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه تعزيري سزا ورکړل شوه. ابتدائيه محکمې ياد مجرمين له ۷ مياشتو څخه تر دوو کاله او شپږو مياشتوپر تنفيذي بند او له ۱۰ څخه تر ۲۰ دُرو پر تعزيري سزا محکوم کړي وو؛ چې ياده پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائيد وروسته پر يادو مجرمينو تطبيق شوه.

## حکم جزای تعزیری بالای دو مجرم در ولایت سمنگان تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی روی دوآب ولایت سمنگان بالای دو تن به شمول یک زن به جرم فرار از منزل و فساد اخلاقی، به تاریخ ۵/ ۶/ ۱۴۴۷هـ ق حکم جزای تعزیری تطبیق شد. محکمهٔ ابتدائیه مجرمین مذکور را از یک تا دو سال حبس تنفیذی و از ۲۰ تا ۳۰ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بودند؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه بالای مجرمین تطبیق شد.

## د فراه ولايت بالابلوک ولسوالۍ ابتدائيه محکمې مسؤولينو په هڅو د دوو کورنيو ترمنځ (۱۷) کلنه دښمني پای ته ورسېده

د فراه ولايت بالابلوک ولسوالۍ ابتدائيه محکمې مسؤولينو په ډېرو هڅو؛ د قومي مشرانو او علماوو په منځګړيتوب په ۲/ ۶/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه د دوو کورنيو ترمنځ د عمدي قتل له امله رامنځته شوې (۱۷) کلنه دښمني د سولې له لارې حل او فصل شوه. ياده موضوع ابتدائيه محکمې ته تر راجع کېدو وروسته په غور او دقت وڅېړل شوه، وروسته د مسؤولينو په هڅو دواړه لوري سولې ته ترغيب شول او دوی هم قبوله کړه. د مسؤولينو په هڅو او د قومي مشرانو په منځګړيتوب ياده موضوع رسماً پای ته ورسېده او دښمني يې په دوستۍ بدله شوه.

## په هلمند ولايت کې دوو متهمينو ته تعزيري سزا ورکړل شوه

د هلمند ولايت ګرشک او موسی‌کلا ولسواليو ابتدائيه محاکمو د پرېکړو له مخې دووکسانو ته چې پر زنا متهم وو؛ د يکشنبې په ورځ ۹/ ۶/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه تعزيري سزا ورکړل شوه. ابتدائيه محاکمو يو متهم پر لس مياشتي تنفيذي بند او ۲۰ دُرو تعزيري سزا او دويم متهم پر شپږ مياشتي تنفيذي بند او ۳۹ دُرو تعزيري سزا محکوم کړي و؛ چې ياده پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائيد وروسته پر متهمينو تطبيق شوه.

## په پکتيا ولايت کې دريو مجرمينو ته تعزيري سزا ورکړل شوه

د پکتيا ولايت جاني‌خېلو ولسوالۍ ابتدائيه محکمې د پرېکړې له مخې دريو کسانو ته د جعلي پيسو په جرم؛ په ۱۲/ ۶/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه تعزيري سزا ورکړل شوه. ابتدائيه محکمې ياد کسان پر شپږ- شپږ مياشتي تنفيذي بند او ۲۰- ۲۰ دُرو تعزيري سزا محکوم کړي وو؛ چې ياده پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائيد وروسته پر مجرمينو تطبيق شوه. ياد پرېکړه د ابتدائيه محکمې رئيس او قضائي غړو، ولسوال، امنيه قوماندان، استخباراتو مدير، قومي مشرانو او عامو خلکو په شتون کې تطبيق شوه.

## حکم جزای تعزیری بالای یک مجرم در ولایت بلخ تطبیق شد


به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری ولایت بلخ بالای یک تن به جرم قاچاق مشروبات الکولی؛ به تاریخ ۹/ ۶/ ۱۴۴۷ هـ ق حکم جزای تعزیری تطبیق شد. محکمهٔ ابتدائیه مجرم را به ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بود؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه، در حضور رؤسای، اعضای قضائی، منسوبین اداری و خدماتی، مجاهدین و مردم عام تطبیق شد .


## حکم جزای تعزیری بالای یک متهم در ولایت فاریاب تطبیق شد


به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی خواجه موسی ولایت فاریاب بالای یک تن به اتهام سرقت؛ به تاریخ ۸/ ۶/ ۱۴۴۷ هـ ق در محضر عام حکم جزای تعزیری تطبیق شد. محکمهٔ ابتدائیه متهم را به یک سال و شش ماه حبس تنفیذی و ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بود؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه تطبیق شد . این حکم در حضور رئیس محکمهٔ ابتدائیه، اعضای قضائی، علماء کرام، مسؤولین ملکی، نظامی و جمع کثیری مردم عام تطبیق شد.

## په خوست ولايت کې (۳۴) مجرمينو ته تعزيري سزا ورکړل شوه

د خوست ولايت ښاري ابتدائيه محکمې د عامه امنيت ديوان د پرېکړې له مخې (۳۴) کسانو ته د نشه‌يي توکو او جعلکارۍ په جرمونو، د يکشنبې په ورځ ۱۶/ ۶/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه په عام محضر کې تعزيري سزا ورکړل شوه. ابتدائيه محکمې ياد کسان له يوه کال څخه تر اوو کالو پر تنفيذي بند او له ۱۰ څخه تر ۳۹ دُرو پر تعزيري سزا محکوم کړي وو؛ چې ياده پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائيد وروسته پر مجرمينو تطبيق شوه.





ميزان
د ليکوال پلاوي تر څارنې لاندې
پته : ستره محکمه، د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رياست
publications.sc١٤٤٣@gmail.com
www.supremecourt.gov.af
د ټلېفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳